# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۱۳مه | د ۲۰۱۸ د نومبر څلورمه | دویم کال| ۲۷۸مه گڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### د لوگر د لوړو زده کړو موسسه

د لوگر د لوړو زده کړو موسسې رییس وايي، دوی د پکتیا پوهنتون، کابل پوهنتون، د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون، پروان پوهنتون، بغلان پوهنتون او د وردگو د لوړو زده کړو له موسسې سره علمي اړیکې لري.



## شنونکي: ټاکنیز کمېسیونونه د ولسمشریزو ټاکنو د مدیریت توان نه لري



۳

### مزار شریف کې درې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



مزار شریف کې د ۳۵۰ زره امریکايي ډالرو په لگښت درې تولگټې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.
د یادو پروژو لگښت د ترکیې له خوا ورکړل شوی او د جوړېدو چارې یې هم د ترکیې د همکاریو سازمان یا (تیکا) له لوري ترسره شوې دي.
د دې ادارې عمومي مرستیال سوریا ایرد وايي، مزار شریف کې د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره شنه ساحه، د مور او ماشوم زده کړې مرکز ته ودانۍ جوړول او د استقلال لېسې بیارغونه او پکې عامه کتابتون پرانیستل، هغه پروژې دي چې چارې یې بشپړې شوې او د گټې اخیستو وړ دي.
نوموړي ویلي: «دمور او ماشوم زده کړو مرکز لپاره د ودانۍ چارې په نهو میاشتو، د استقلال لېسې د بیارغونې او هلته د کتابتون جوړولو چارې په څلورو میاشتو او د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره د شنې ساحې جوړولو چارې په دوو میاشتو کې بشپړې شوې دي.»

### د مولانا سمیع الحق وژنه، د کوم بدلون نښه ده؟

۲ مخ

### د ډیورنډ کرښې په اړه د امریکا دریځ

۳ مخ


### ویتامین (ب – کمپلکس)؛ فواید و موارد مصرف آن

۵ مخ

## ولسمشر غني: طالبان دې بین الافغاني مذاکراتو ته غاړه کېږدي

ولسمشر غني یو ځل بیا پر طالبانو غږ وکړ چې بین الافغاني مذاکراتو ته چمتو شي، ځکه حکومت د سولې واک پردیو ته نه ورکوي.
دغه څرگندونې ولسمشر غني د پکتیکا له قومي مشرانو او دیني عالمانو سره د لیدنې پر مهال د پکتیکا په مرکز ښرنه کې وکړې.
ولسمشر زیاته کړه چې له سیاسي اړخه د سولې زمینه برابره شوې او اسلامي نړۍ او سیمه سولې ته چمتو ده.
ده وویل چې افغانستان له پاکستان سره سوله غواړي او پاکستان باید په دې پوه شي چې باثباته افغانستان د دوی په گټه هم دی.
ولسمشر وویل: «طالبان دې بین الافغاني مذاکراتو ته چمتو شي، ځکه چې موږ د سولې اختیار پردیو ته نه ورکوو.»
غني تېرو ټاکنو ته په اشارې سره وویل چې د خلکو ونډه د قدر وړ ده او د ټاکنو دواړه کمېسیونونه روښتیا ته ژمن دي او د ولس د ارادې درناوی به وکړي.
ولسمشر له امنیتي او دفاعي ځواکونو سره په همکارۍ کې د پکتیکا د ولس رول اغېزناک وباله او د دغه رول پر لا پیاوړتیا یې ټینگار وکړ.
غني وویل چې د پکتیکا ولایت قومي جوړښت، یووالی او همغږي پیاوړې ده او باید په یوه داسې طرحه کار وشي چې د امنیت له ټینگښت سره مرسته وکړي. ولسمشر محمد اشرف غني پرون سهار د یو لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ پکتیکا ولایت ته سفر وکړ.

### د کندهار او هلمند د پېښو د څرنگوالي په تړاو به ډېر ژر معلومات خپاره کړو



۲ مخ

### سربازان در ولسوالی چارسده غور با کمبود تجهیزات و غذا روبه‌رواند



شماری از اعضای شورای ولایتی غور به رسانه‌ها گفته است که نیروهای امنیتی ولسوالی چهارسدهٔ این ولایت از چند هفته به این‌سو با کمبود تجهیزات نظامی و مواد خوراکی روبه‌رواند.
غلام‌سخی جاوید، عضو شورای ولایتی غور می‌گوید، این مشکل پس از آن به وجود آمد که افراد طالبان از ۲ ماه به این‌سو حملات‌شان را به هدف تصرف این ولسوالی آغازکردند.
این عضو شورای ولایتی هشدار می‌دهد که اگر به این نیروها تجهیزات و مواد خوراکی و همچنان نیروی کمکی فرستاده نشود، طالبان ولسوالی چهارسده را تصرف خواهند کرد.
به گفتهٔ او طالبان برای تصرف این ولسوالی از ولایت‌های بادغیس و سرپل نیرو گردآوری کرده‌اند.
اما عبدالحی خطیبی، سخنگوی والی غور می گوید که از چند روز به این‌سو روستای منگ ولسوالی چهارسده در محاصرهٔ گروه طالبان قرار دارد و مردم این روستا با کمبود مواد خوراکی روبه‌رواند.
شاه‌آغا شتاب، قوماندان امنیه غور نیز می‌گوید که نیروهای امنیتی ولسوالی چهارسده تجهیزات نظامی کافی در اختیار دارند و تنها با کمبود مواد غذایی مواجه‌اند و آنان برای رفع این چالش یک مقدار پول را به سربازان‌شان می‌فرستند تا مواد مورد نیازشان را خریداری کنند.
به گفتهٔ وی، گروه طالبان شنبه شب نیز بر این ولسوالی حمله کرده بودند که بادادن تلفات، مجبور به عقب‌نشینی شدند.
ولسوالی چهارسدهٔ غور در ۱۰۰ کیلومتری شهر فیروزکوه، مرکز این ولایت قرار دارد که راه زمینی آن به روی رفت‌وآمد مقام‌های دولتی به ویژه نیروهای امنیتی مسدود است.




## دریـځ

# د مولانا سمیع الحق وژنه، د کوم بدلون نښه ده؟

د پاکستان د جمعیت علمای اسلام (س) گوند او د لویې دینـي مدرسـې، دارالعلوم حقانیه مشر مولانا سمیع الحق د وژنـې په تړاو بېلابېل نظرونه دي. ځینـې کسان وایـي چـې هغـه خپلـه د پاکستاني استخباراتو لـه خوا وژل شـوی، خـو ځینـې بیا بېل نظر لري. د مولانا زوی حامد الحق وایي، ښایي د مولانا سمیع الحق د وژنـې ترشا په پاکستان کـې ځینـې لاسونه وي، خـو د ده په ټکو ددې ترشا هنـد، امریکا، اسراییـل او بهرنـي لاسونه هـم دي چـې د بـل چا پـه وسیله یـې په پاکستان کـې دا کار کـړی.

د برید څرنگوالـی، وخت، ځـای، په پاکستان کـې سیاسـي بدلونونه او لـه افغانستان سره ځینـې تـړلي مسایل داسـې دي چـې ښکاره کـوي د هغـه مرگ د هغـې لوبـې برخـه ده چـې پاکستان یـې لـه سترگو قدرتونـو سره پـر مخ وړي. اتیـا کلـن مولانـا سمیع الحـق مهمه مذهبـي څېره وه چـې د افغان جگـړې ملاتـړ یـې کاوه او طالبـان یـې مجاهدیـن گڼـل. هغه نـه یـوازې دا چـې په خـبرو کـې د طالبانو ملاتـړ کاوه، بلکـې د بـشري ځـواک او مـالي مرسـتو پـه برابرولـو کـې یـې هـم ورسره مرسـته کولـه. کـه څـه هـم هغـه دا کار د مذهبـي دلایلو پـر اساس توجیـه کاوه، خـو ویـل کېږي چـې هغه د پاکستان د پوځ او استخباراتو د پالیسیو له مخـې دغـه کار کاوه. دا چـې د دغـه کار انگېزه څـه وه، جـلا بحث دی، خـو د هغـو د کارونو گټه مخامخ د پاکستان پوځ او استخباراتو تر لاسـه کوله.

مولانـا او ملگـرو بـه یـې تـل د افغانسـتان د اشـغال خـبره کولـه، خـو پـه پاکستان کـې یې د امریکایـي ځواکونـو، استخباراتو او د هغـوی د سیاسي نفـوذ پـه تـړاو څـه نـه ویـل. امریکا د پاکسـتان لـه خـاورې پر افغانسـتان یرغـل وکـړ، د پاکستان پوځ او استخباراتو یې مرسته وکړه، ځمکنـی لارې یـې ورکـړې، اډې یـې ورکـړې، سـلگونه او زرگونـه افغـان، پاکسـتاني او عـرب مسـلمانان یـې پـر امریکا وپلـورل، خـو مولانـا ددې هـر څـه پـه اړه غلـی پاتـې شـو او یـوازې پـه افغانسـتان کـې یـې د جگـړې ملاتـړ کاوه. لـه امریکا سره د افغانسـتان پـه اشـغال کـې د پاکسـتان لـه ښکاره مرسـتې سره سره هغـه د پاکسـتان حکومـت نـه ملامتـاوه او دا یـې د مجبوریـت پـر اسـاس یـو ډول مـشروع کار باله. لـه بلـه اړخه پـه پاکستان کې ښکاره د اسلام خـلاف قوانیـن حاکـم دي او د پاکسـتان پـوځ زرگونـه پښـتانه او هغـه مجاهدیـن ووژل چـې د پاکسـتان د پـوځ خـلاف یې جگـړه کولـه، خـو پـه دغـو ټولـو چارو کـې مولانا د پاکسـتان د پوځ او اسـتخباراتو ملاتـړ کاوه او پـه پاکسـتان کـې یې جگـړه نامشروع گڼلـه.

د پاکسـتان پوځ او اسـتخباراتو ته له دومره پراخ خدمـت سره سره اوس ټول شـواهد داسـې دي چـې ښـیي د هغه پـه وژنه کې خپله پاکستاني اسـتخبارات لاس لـري. داسـې ښـکاري چـې مولانـا پـه پاکسـتان کـې د ننـه د ځینو مسـایلو لپـاره قربانـي شـو. لـه بلـه اړخه لـه امریـکا سره پـه افغانسـتان کـې د پاکسـتان پـه نـوې معامله کـې مولانـا کار نـه ورکاوه او ښـایي سـتونزې یې پیـدا کـړې وی. لـه همدې امله هغه نـور ژوندی نـه دی. کـه پـه لنـډه ووایـو مولانا پـه ژونـد هـم د پاکسـتان د پوځ او اسـتخباراتو لپاره وکارول شو او وژنـه یـې هـم د هغـوی د گټـو لپـاره د هغـوی پـه لاس وشـوه.

## یوه افغان سرتېري دوو امریکایي سرتېرو ته مرگ ژوبله اړولې ده



په افغانستان کې د ناټو په مشرۍ د غوڅ ملاتړ ماموریت وایي چې پرون په کابل کې د یوه افغان سرتېري په داخلي برید کې دوو امریکایي سرتېرو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

د غوڅ ملاتړ ماموریت له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې ټپي شوی سرتېری په کابل کې د بگرام هوایي اډې روغتیایي مرکز ته لېږدول شوی او روغتیایي وضعیت یې د ډاډ وړ دی.

د غوڅ ملاتړ ماموریت په خبرپاڼه کې د لومړنیو معلوماتو پر بنسټ ویل شوي چې برید د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو د یو منسوب له خوا شوی دی.

په خبرپاڼه کې دغه راز ویل شوي چې بریدگر د افغان امنیتي ځواکونو د یو بل منسوب له خوا په ډزو سره وژل شوی دی.

په دې وروستیو اونیو کې دا پر بهرنیو ځواکونو د افغان سرتېرو دویم برید دی چې له امله یې بهرنیو ځواکونو ته مرگ ژوبله اوړي.

په افغانستان کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت ویاند ډگروال کنټ پیټرز د لړم په څلورمه رسنیو ته ویلي وو چې روانو حالاتو ناټو دېته هڅولې چې د امریکایي او بهرنیو ځواکونو د امنیت په خاطر له افغان ځواکونو سره مخامخ لیدنې کتنې په موقتي ډول کمې کړي.

ناټو دا پرېکړه وروسته له هغې وکړه چې دوه اونۍ مخکې په یوه داخلي برید کې د کندهار د امنیې قوماندان جنرال عبدالرازق په داسې حال کې ووژل شو چې د غوڅ ملاتړ عمومي قوماندان سکاټ مېلر هم ورسره و.


د ناټو ویاند پیټرز دا هم ویلي چې د ترهگرو پر ضد به خپلو عملیاتو ته دوام ورکوي او له افغان ځواکونو سره به له لرې د ټلیفون او ایمېل له لارې تماس ساتي.

د داخلي بریدونو اصطلاح هغو بریدونو ته کارول کېږي چې په عمومي توگه یې افغان سرتېري په پوځي اډو کې پر خپلو همکارانو او یا هم پر بهرنیو ځواکونو کوي.

له ۲۰۰۸ ز کال راهیسې په دغه ډول بریدونو کې څه د پاسه ۱۵۰ امریکایي او یا هم د ائتلافي قواوو سرتېري وژل شوي او شاوخوا ۲۰۰ یې ټپیان شوي دي.

د دغو بریدونو کچه په ۲۰۱۲ ز کال کې خورا لوړه وه چې هغه وخت یې د ائتلافي ځواکونو قوماندانان دېته اړ کړل، څو احتیاطي تدابیر ونیسي او په دې توگه له داخلي بریدونو د اوښتونکې مرگ ژوبلې کچه راټیټه کړي.

## ستانکزی: د کندهار او هلمند د پېښو د څرنگوالي په تړاو به ډېر ژر معلومات خپاره کړو



د ملي امنیت رییس وایي، د کندهار پر امنیې قوماندان جنرال عبدالرازق او د ولسي جرگې پر غړي عبدالجبار قهرمان د بریدونو د څرنگوالي په اړه به بشپړ معلومات ډېر ژر له خلکو سره شریک کړي.

د ملي امنیت رییس معصوم ستانکزی وایي، د دوی د موندنو له مخې، د کندهار او هلمند په ورستیو خونړیو پېښو کې د سیمې استخباراتو لاس درلود.

ستانکزي دا څرگندونې پرون د ولسي جرگې استماعیه غونډې ته وکړې او ویې ویل: «موږ په خپلو څېړنو کې ښه پرمختگ لرو چې د پېښې اصلي ځای ته یې نږدې کړې یو، کسان مشخص شوي دي، دا کس څوک و، کورنۍ او هغو کسانو چې ده ته یې روزنه ورکړې او دی یې دلته رسولی او څنگه یې راوستی، د پېښې ټول جریان له تخنیکي امکاناتو په استفادې بشپړ شوی دی.»

ستانکزي دغه راز وویل چې تر اوسه د کندهار د امنیه قوماندان د وژنې په تړاو ۲۲ تنه نیول شوي او تر څېړنو لاندې دي.

د ملي امنیت رییس وایي، د دوی څېړنې ښیي چې د جنرال رازق د وژلو طرحه د سیمې د استخباراتو په همکارۍ جوړه شوې وه.

په ورته وخت کې د کورنیو چارو وزیر ویس احمد برمک غونډې ته په خپلو خبرو کې وویل چې پولیسو په دیارلسو پړاوونو کې د کندهار د امنیه قوماندان د وژل کېدو د قضیې په تړاو خپلې څېړنې وکړې او مدارک او شواهد یې د ملي امنیت ریاست په واک کې ورکړل.

شاوخوا دوه اونۍ مخکې د کندهار پخوانی امنیه قوماندان ستر جنرال عبدالرازق اڅکزی او د نوموړي ولایت د ملي امنیت پخوانی رییس مومن حسین خېل د کندهار د والي په دفتر کې په نښه او ووژل شول.


تر دې پېښې مخکې د ولسي جرگې لپاره له هلمند ولایته کاندید عبدالجبار قهرمان د هلمند په مرکز لښکرگاه کې په خپل کار ځای کې ووژل شو.

د ولسي جرگې دویم مرستیال امیرخان یار چې د غونډې مشري یې کوله، له امنیتي مسوولینو وغوښتل چې په یادو پېښو کې ښکېل کسان مجازات کړي.

ده وویل: «موږ داسې نه شو کولای چې اتلان مو وژل کېږي او مونږ غلي کېنو، زمونږ غوښتنه له تاسې دا ده چې د یادو پېښو عاملین باید د خپلو اعمالو سزا ووینې، دا چې په دې تړاو د امنیتي او کشفي ارگانونو ضعف و، نور موارد یا د بهرنیانو لاس باید ټول خپله سزا ووینې.»

د ملي دفاع وزیر طارق شاه بهرامي هم یادې غونډې ته په خبرو کې وویل چې د ملي امنیت په گډون د نورو امنیتي ارگانونو په همکارۍ د کندهار او هلمند د پېښو په تړاو جدي څېړنې روانې دي او هیله یې وښوده چې تر لاسه شوي نتایج به د خلکو قناعت خپل کړي.

## روسیې ځینو افغان سیاستوالو ته په پټه د مسکو په غونډه کې د گډون بلنه ورکړې ده



روسیې په پټه ځینو وتلو افغان سیاستوالو ته بلنه ورکړې چې له طالبانو سره د مذاکرو لپاره د مسکو په غونډه کې برخه واخلي.

د افغانستان د سیاستوالو په هغه ډله کې چې مسکو ته بلل شوې، پخوانی ولسمشر حامد کرزی هم شامل دی.

د رویټرز اژانس په حواله، په تېرو دوو میاشتو کې د دغه کنفرانس لپاره بلنه بیا بیا تمدید شوې ده.

د اژانس په حواله، په دې ډله کې د افغان رهبرانو همکاران او هغه مخکښ سیاستوال هم شامل دي چې له افغان حکومت سره اړیکې لري.

رویټرز اژانس لیکلي چې په کابل کې د روسیې سفارت پر دې موضوع له تبصرې کولو ډډه وکړه.

روسیې په اگست میاشت کې په مسکو کې د سولې د څو اړخیزو مذاکرو وړاندیز... پېشنهاد کړی و، ۱۲ هېوادونو او د طالبانو استازو ته یې بلنه ورکړې وه چې په سپټمبر میاشت کې په دغو مذاکرو کې برخه واخلي.

خو د مسکو غونډه وروسته له هغې وځنډول شوه چې ولسمشر محمد اشرف غني وویل، له طالبانو سره هر ډول مذاکرې باید د افغان حکومت په رهبرۍ وشي. بل خوا د بهرنیو چارو وزارت وایي، د مسکو د غونډې په اړه یې له روسي چارواکو سره خبرې روانې دي.

د دغه وزارت ویاند صبغت احمدي ازادي راډیو ته ویلي: «زموږ دریځ له لومړۍ ورځې مشخص و، موږ ویلي چې د مسکو غونډې د څرنگوالي په اړه بحث کوو، دا بحث روان دی، د دې غونډې د نېټې په اړه هم په خبرو بوخت یو چې یوې نتیجې ته ورسېږو.»

دغه راز د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زخارووا ویلي، هیله منه ده چې د دغه کنفرانس جزیات په راتلونکو ورځو کې روښانه کړي.

هغې ویلي چې د دې غونډې نېټه او د گډونوالو لېست په نهایي کېدو دی.

یوه افغان چارواکي رویټرز ته ویلي: «له موږ غوښتنه شوې چې د مسکو غونډه لغوه کړو، ځکه د بېلابېلو ډلو له خوا له طالبانو سره خبرې د افغانستان د سولې پروسه چې امریکا یې ملاتړ کوي، لا پېچلې کوي.»

د پخواني ولسمشر حامد کرزي ویاند محمد یوسف سها بیا ویلي، کرزی به د مسکو په غونډه کې ځکه گډون وکړي چې له طالبانو سره د سولې هر ډول خبرې باید له پامه ونه غورځول شي.

د بلخ پخواني والي او د جمعیت گوند یوه مشر عطامحمد نور هم ویلي چې د مسکو په غونډه کې به برخه اخلي.

رویټرز اژانس لیکي، په افغانستان کې د طالبانو مهمو غړو ویلي چې دوی به هم مسکو ته خپل یو هیئت ولېږي چې له گاونډیو هېوادونو چین، ایران، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او نورو سره بحث وکړي.

دغو هېوادونو مخکې ویلي وو چې دې غونډې ته به خپل استازي ولېږي.

## سیداکبر اغا: حکومت د سولې د راوستو لپاره رښتینې اراده نه لري



پخوانی طالب چارواکی او د خلاصون لارې شورا مشر سید اکبر اغا وایي چې افغان دولت د سولې د ټینگولو لپاره رښتینې اراده نه لري.

هغه چې پرون یې په خوست کې د دیني عالمانو او قومي مشرانو یوې غونډې ته خبرې کولې وویل، کومې هڅې چې افغان دولت د سولې لپاره پیل کړې دي، نمایشي بڼه لري او تر دې دمه یې کومه مثبته پایله نه ده ورکړې.

نوموړي غونډې ته په خبرو کې د سولې په عالي شورا هم نیوکه وکړه او ویې ویل چې دا یوه دولت پلوې شورا ده او د سولې د راوستلو واک او اختیار نه لري.

اکبر اغا زیاته کړه: «د سولې شورا دومره وخت تېر شو او هر غړی یې زرگونه ډالر معاش اخلي، خو د سولې راتگ لپاره یې ډېر لږ کار هم نه دی کړی، ځکه دوی په دې باور دي که چېرې په هېواد کې سوله راشي، نو دا معاش بیا له منځه ځي.» دغه پخوانی طالب چارواکی د افغان سولې په برخه کې د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد کار ته هم د شک په سترگه گوري.

هغه وایي، تر هغه چې امریکا د افغانستان لپاره په جوړه شوې ستراتیژۍ کې بدلون را نه ولي او د سولې په برخه کې صادقانه چلند ونه کړي، د هغوی ټولې هڅې بې معنی دي. سید اکبر اغا د طالبانو د قطر له سیاسي دفتر سره، له گوانتنامو زندان څخه د را خوشي شویو پنځو مهمو طالب مشرانو یو ځای کیدل نېک گام یاد کړ.

نوموړی زیاتوي چې په دې دفتر کې شامل کسان په طالبانو کې له پوره نفوذ څخه برخمن دي او په وینا یې کومه پرېکړه چې د قطر دفتر وکړي، د کوېټې شورا به یې ماته نه کړي.

هغه زیاته کړه: «زه چې څومره طالبان پېژنم او وخت مې په کې تېر کړی، اوس د طالبانو د قطر دفتر د کوېټې له شورا قوي دی، ځکه د طالبانو ټول مهم کسان پکې شامل دي. نو اوس یو ځل بیا له خلکو سره د سولې یوه هیله پیدا شوې ده.» د سیداکبر اغا دا څرگندونې په داسې حال کې دي چې حکومتي مشران او د سولې عالي شورا چارواکي تل په هېواد کې د سولې د راتگ لپاره د اړینو هلو ځلو خبره کوي.

# د ډیورنډ کرښې په اړه د امریکا دریځ

زاهد خلیلي


څو ورځې وړاندې ځینو افغان رسنیو د یوه امریکایي سناتور براډ شېرمن له خولې ولیکل، امریکا باید له افغانستان سره خپلې مرستې د ډیورنډ کرښې په رسمي کېدو پورې مشروطې کړي.
دا خبر د تېر کال و، نه پوهېږم څه ډول او د کومې موخې لپاره یو ځل بیا افغان رسنیو کې راپورته شو.
د ډیورنډ کرښې په اړه د امریکا دریځ له پخوا مالوم دی. د پاکستان له جوړېدو وروسته چې د ظاهر شاه په مشرۍ حکومت د دې کرښې نړیوال حیثیت په یو اړخیز ډول له منځه یووړ او د قومي، ژبنیو او اخلاقي اصولو پر بنسټ یې له کرښې هاخوا د پښتونستانیانو ملاتړ وکړ، امریکا د افغانستان دغه دریځ تایید نه کړ.
صمد غوث لیکلي، د ۱۹۵۳ ز کال په ډسمبر کې چې د امریکا مرستیال ولسمشر ریچارډ نېکسن کابل ته راغی، افغان مشرانو ته یې وویل چې د پښتونستان مسئله نوره باید ختمه شي. د نېکسن په وینا، افغانستان پرته له کوم دلیله له پاکستان سره شخړې ته ننوتی دی. افغانستان د نېکسن دغو خبرو سخت خپه او غوسه کړی و.
په ورپسې کال چې محمد داود خپل ورور او د بهرنیو چارو وزیر محمد نعیم واشنګټن ته د پوځي مرستې د غوښتنې په پار واستول، نو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ډالس ترې وغوښتل چې د پښتونستان مسئله حل کړي.
د امریکا له لوري افغانستان ته د پوځي مرستو ورکړه د پاکستان په خوشالولو او له ملي داعیو په لاس اخیستو پورې تړلې وه چې دې د افغانستان-امریکا اړیکې یې بې خونده او سړې کړې. د افغانستان د ۱۹۵۵ ز کال لویې جرګې، نېشنلېسټ محمد داود ته اجازه ورکړه چې د پوځ د عصري کولو لپاره له هر هېواده چې وغواړي، مرسته اخیستی شي.
څرنګه چې امریکا له افغانستان سره خپلې مرستې د ډیورنډ او پښتونستان مسئلو له پرېښودلو سره تړلې وې، نو افغانستان د افغانستان د دریځ د هغه مهال ملاتړي هېواد (روسیې) ته مخ واړاوه. له دې سره هغه وېره چې افغانستان به د روسیې تر نفوذ لاندې راشي، سوکه سوکه رښتیا کېده. امریکا په لوی لاس افغانستان د روسیې غېږې ته وروغورځاوه.
امریکا او ایران پر افغانستان، په ځانګړې ډول پر افغان پوځ باندې د روسیې د نفوذ مخالف وو او ترې وېرېدل، خو د افغانستان د ملي داعیو له امله د افغانستان او پاکستان ترینګلې اړیکې هغه څه وو چې د افغانستان-امریکا پوځي اړیکې یې نږدې کېدو ته نه پرېښودې.
له لومړي وزارته د محمد داود د استعفی یو لامل له پاکستان سره د محمد داود د حکومت ترینګلې اړیکې وې. هغه مهال نږدې دوه کاله د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې او سوداګري په ټپه ولاړ وو. د داود له استعفی وروسته سیمه کې د امریکا د یوه ډېر نږدې ملګري، د ایران د پاچا په منځګړیتوب د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې بیا ورغېدې.
خو امریکا هېڅکله هم د ډیورنډ کرښې او پښتونستان په اړه د افغانستان د دریځ ملاتړ و نه کړ.
د امریکا د استخباراتو مرکزي اداري (سي ای اي) په یوه پټ سند کې چې موده وړاندې نشر شوی، راغلي چې امریکا څو ځلې په څرګند او خصوصي ډول ډیورنډ کرښه د نړیوالې پولې په توګه منلې ده.
دې کې د محمد داود د کودتایي جمهوریت دویم کال هم شامل دی. دا داسې مهال دی چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې ډېرې ترینګلې دي. د ۱۹۷۴ ز کال په نومبر کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هېنري کسېنجر محمد داود او محمد نعیم ته له پاکستان سره د امریکا د نږدې اړیکو او د پاکستان ځمکنۍ بشپړتیا ته د امریکا د ژمنتیا یادونه کوي.
د شوروي ضد افغان، پاکستانۍ او پای امریکایۍ جګړې او وروسته د جهادیانو د انارشۍ او طالبي نظام پر مهال وضعیت بدل او دغه دواړې تاریخي، خو پېچلې مسئلې شا ته وغورځول شوې، ځکه افغانستان په هغه ځای کې نه و چې د خپلو تعریف شویو ملي داعیو لپاره پیاوړی غږ پورته کړي. دغه وختونو کې د افغانانو لومړیتوب یوازې جګړې او وژنې وې او امریکا هم د خپلې لویې موخې له ترلاسه کولو وروسته افغانستان د پاکستان رحم ته پرېښی او خپلې پښې یې سپکې کړې وې.
د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال کندهار کې د امریکا سفیر جېمز کنېنګهم او د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي مارک ګروسمن په څرګنده ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ نړیواله پوله وبلله. د ۲۰۱۲ ز کال د اکتوبر په ۲۴مه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د دواړو امریکایي چارواکو خبرې تایید کړې او ویې ویل چې ډیورنډ نړیواله پوله ده.
افغان حکومت او عامو افغانانو دغو خبرو ته سخت غبرګون وښود. حکومت وویل چې د دې کرښې په اړه له افغان ولس پرته هېڅوک د خبرو او پرېکړې حق نه لري.
د امریکایي سناتور څرګندونې چې افغان رسنیو کې بیا راتازه شوې، د تمې خلاف او د حېرانۍ وړ ځکه نه دي چې د دې کرښې په اړه امریکا خپل دریځ پخوا څرګند کړی او ان داسې وختونو کې یې افغانستان یوازې پرېښی چې افغانستان کې د دغو ملي داعیو او پاکستان په اړه احساسات توند او سخت وو.
د امریکا له لوري د افغانستان او پاکستان ترمنځ پاکستان ته ارزښت او د افغانستان په مقابل کې پاکستانۍ ګټو او دریځونو ته د امریکا له لومړیتوب ورکولو څرګندېږي چې امریکا، لکه د پخوا په څېر اوس هم او ښایي راتلونکي کې به هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ تل پاکستان غوره او پاکستانۍ ګټو ته به پام کوي.
زموږ دا ادعا د کرزي هغه خبره هم زباتوي چې د امریکا مرستیال ولسمشر جو بایډن افغانستان کې د زرګونو پوځیانو د شتون سربېره ورته وایي چې پاکستان له افغانستانه ورته څو چنده مهم دی. ډیورنډ کرښه او د برنیو او ښکتنیو قومپالو له لوري هېر شوی پښتونستان د افغانستان لپاره اوس هم سړې او ملي تعریف شوې کرښې دي. تېرو کلونو کې د دغو دوو مسئلو پر سر د افغانستان او پاکستان ترمنځ خبره له جګړو، لارو بندولو او د سفارتونو تر سوځولو پورې رسېدلې ده.
دا چې امریکایي مشران په سپین سترګۍ د کوربه هېواد ملي داعیې او سرې کرښې مسخره او بې ارزښته کوي، له دې افغانستان ته د امریکا، رښتینوالی، ژمنتیا او ملګرتیا ښه مالومېدای شي.

# شنونکي: ټاکنیز کمېسیونونه د ولسمشریزو ټاکنو د مدیریت توان نه لري



د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسي جرګې د ټاکنو ابتدایي پایلې پر ټاکلي وخت نه اعلانوي. بل پلو بیا شنونکي او کارپوهان د کمېسیونونو پر کمزوري مدیریت نیوکه کوي او وایي چې ټاکنیز کمېسیونونه په اوسنۍ ترکیب سره د ولسمشریزو ټاکنو د ترسره کولو جوګه نه دي.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان کړی چې د ولایتونو د ټاکنو ابتدایي پایلې به په دوو اونیو ځنډ او د کابل د ټاکنو پایلې به بیا په دریو اونیو ځنډ سره اعلان کړي.
د ولسي جرګې د ټاکنو د مهالوېش پر بنسټ باید د ټاکنو ابتدایي پایلې د لړم پر ۱۹مه نېټه اعلان شوې وای، خو د ټاکنو د خپلواک کمېسیون غړي او ویاند سیدحفیظ الله هاشمي پرون خبري کنفرانس ته وویل چې د ۳۲ ولایتونو د ټاکنو پایلې به د لیندۍ په دویمه او د کابل د ټاکنو پایلې به بیا د لیندۍ پر ۱۰مه نېټه اعلان شي.
هاشمي وویل چې تر دې مهاله د ۲۳ ولایتونو د ټاکنو پایلې د کمېسیون مرکزي دفتر ته رسېدلې او د اتو هغو بیا د معلوماتو د ثبت مرکز ته د ننه شوې دي.
د ټاکنو د خپلواک کمېسیون غړي او ویاند وویل چې د سیاسي ګوندونو او جریانونو له لوري د ولسمشریزو ټاکنو د مهالوېش په تړاو مختلفې طرحې ورسپارل شوې چې په وینا یې اوس یې کمېسیونونه ارزونه کوي.
هاشمي وویل، د ارزونو تر بشپړېدو وروسته به د ولسمشریزو ټاکنو مهالوېش هم اعلان شي: «د وطن خیر په دې کې دی چې ټولې ټاکنې په یو ځای وشي. وړاندیزونه مختلف دي، دا چې د ولایتي شورا ټاکنې له ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای شي او که نه؛ کمیسیون ارزونه کوي او ژر به اعلان شي».
په ورته وخت د سیاسي ګوندونو ځینې استازي او د چارو شنونکي وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسون د کمزوري مدیریت تر اغېزې لاندې دی او که یې غړي بدل نه شي، نو د ولسمشرۍ ټاکنې به له ګڼو ستونزو سره مخ شي.
د حزب اسلامي د مطبوعاتي ټیم غړي فیض الله ساپي مسیر ورځپاڼې ته وویل چې اوسني کمېسیونونه د ولسمشریزو ټاکنو د مدیریت وړتیا نه لري: «دوی د ولسي جرګې ټاکنې مسخره کړې او ونه توانېدل چې ښې ټاکنې وکړي. له همدې امله حزب اسلامي حاضر نه دی چې د دوی د کار دوام ومني او د دوی تر مشرۍ لاندې ولسمشریزې ټاکنې وشي.»
ساپي وایي چې د کمېسیونو غړي باید استعفا ورکړي او پر ځای یې نوي کسان وګومارل شي.
د سیاسي چارو شنونکی فضل الرحمن عمرخېل بیا د ټاکنیزو کمېسیونونو غړي پر بې کفایتۍ او فساد تورنوي او وایي چې هغوی د ولسي جرګې د ټاکنو په سم ترسره کولو کې پاتې راغلل.
عمرخېل د اندېښنې په څرګندولو سره مسیر ورځپاڼې ته وویل: «د دغو کمېشنرانو په مدیریت راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې به هم له درغلیو او ستونزو ډکې وي».
عمرخېل وړاندیز کوي چې د ټاکنو قانون باید تعدیل شي او پراخ بدلونونه پکې راشي. د نوي قانون پر اساس باید نوي کمېشنران وټاکل شي او په کمېسیونونو کې دې ژورو اصلاحاتو ته زمینه برابره شي.

# ټرمپ: ایراني چارواکي به اخر هم هوښیار شي او د نویو شرطونو منلو ته به غاړه کېږدي




د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، ایراني چارواکي به اخر هم هوښیار شي او نوې اټومي هوکړې ته به غاړه کېږدي؛ په ورته وخت کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف له څو اروپایي مشرانو سره ټلیفوني اړیکې نیولې او پر ایران د امریکا د بندیزونو په تړاو یې ورسره خبرې کړې دي.
ټرمپ په ځای وخت ورمه شپه په انډیانا کې د خلکو یوې غونډې ته په وینا کې له ایران سره د نړۍ د لویو قدرتونو اټومي هوکړه تر ټولو بده هوکړه وبلله او ویې ویل چې پر ایران به تر ټولو سخت بندیزونه ولګوي.
ټرمپ په ټینګار سره وویل چې ایراني چارواکي به بالاخره هوښیار شي او د اټومي تړون لپاره به د نویو شرایطو منلو ته غاړه کېږدي.
ټرمپ په ځلونو ټینګار کړی چې غواړي له ایران سره د اټومي تړون لپاره عادلانه هوکړه وکړي او په وینا یې چې دې موخې ته د رسېدو لپاره به د ایران پر اخوندي رژیم شدیدو بندیزونو ته دوام ورکړي.
ټرمپ په انډیانا کې د خلکو غونډې ته تر وینا مخکې په ویرجینیا کې خبریالانو ته ویلي وو چې نوي بندیزونه به ایران ته سخت ټکان ورکړي او په وینا یې، له کله چې امریکا د ایران له اټومي تړونه وتلې، ایران هغه پخوانی هېواد نه دی پاتې شوی.
امریکایي چارواکو د جمعې په ورځ خبر ورکړ چې د ایران د اټومي تړون تر لاسلیکېدو وروسته پر دغه هېواد ځنډول شوي بندیزونه بیا پیلېږي او دغه راز به د ۳۰۰ نورو حقیقي او حکمي اشخاصو نومونه هم د بندیزونو په لېست کې شامل شي.
په ورته مهال د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف ورمه شپه له ځینو اروپایي مشرانو سره ټلیفوني اړیکې نیولې او د امریکا د بندیزونو په تړاو یې ورسره خبرې کړې دي.
ظریف د اروپایي اتحادیې د بهرني سیاست له مسوولې فدریکا موګرینۍ، د المان، سویډن او ډنمارک د بهرنیو چارو له وزیرانو سره خبرې کړې او له هر یوه سره یې جلا جلا د امریکا له بندیزونو سره د مقابلې په تړاو خپل نظریات شریک کړي دي.
اروپایي اتحادیې چې د ایران د اټومي تړون پر دوام ټینګار کوي، د امریکا پر نویو بندیزونو خواشیني څرګنده کړې ده.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

**یوولسمه ځانګړنه**
**غوږ نیول:**



۱) **پیروان**
ښه رهبران هغه دي چې خلک یې پیروۍ ته زړه ښه کوي، خو داسې رهبران بیا له خپلو پیروانو سره په اړیکه کې یوازې کاروباري فکر نه کوي. دوی دې ته پام کوي چې هر پیرو یو انسان دی. فیلیپ ستانهوپ وایي: (زیاتره خلک تر غوښتنې منلو دا غوره ګڼي چې خبره یې واورئ.) که عادت مو دا وي چې واقعیتونو ته ګورئ، خو څوک چې درسره غږېږي د هغه خبرې ته غوږ نه ږدئ، نو خپل چلند ته بیا له سره کتنه وکړئ او خبرې واورئ.

۲) **پېرودونکي**
یو متل دی چې: (ګنګوسو ته غوږ ونیسئ چې چیغو اورېدو ته اړ نشئ.) زه هغو رهبرانو ته حیران یم چې په خپلو مفکورو کې ډوب وي او د خپلو پېرودونکو اندېښنې، نیوکې او وړاندیزونه نه اوري. د مایکروسافټ مشر بیل ګېټس وایي: (مرور پېرودونکي اندېښنه وي، خو په عین وخت کې لوی فرصت هم وي.) ښه رهبران تل له خپلو پېرودونکو سره اړیکو ته لومړیتوب ورکوي.

۳) **سیالان**
سام مارکویچ ویلي: (که زما له نظر سره موافق نه یې، په دې مانا ده چې لا دې زما خبره نه ده اورېدلې.) ده به دا خبره هسې په ټوکه کې کړې وي، خو له بده مرغه یو تریخ واقعیت دا دی کله چې رهبر یوه اداره یا سازمان خپل سیال وګڼي، نو دی بیا د خپل سازمان د پر مخ وړلو او لوړولو په چارو کې دومره بوخت وي او له دې سره ډېر لږ سروکار لري چې د سیال سازمان چارې او فعالیتونو ته پام وکړي.
لاري کینګ وایي: (زه هره ورځ له ځان سره دا وایم چې زما خپله خبره ماته هېڅ نه را زده کوي، نو که غواړم څه شی زده کړم، باید د نورو خبره واورم.) د رهبر په توګه تاسې په هغه لاره ځئ چې نور خلک پرې روان دي، خو د ځان د ودې او تکامل لپاره باید د نورو خبرې واورئ او غوږ ورته ونیسئ.

٤) **سلاکار**
هېڅ رهبر به دومره تکړه او تجربه کار نه وي، چې سلاکار ته دې اړتیا ونه لري. ما خپله له هغو رهبرانو ډېر څه زده کړي چې تر ما مخکې او مشران دي. په دې کې زما پلار (مالوین مکسوېل)، المر تاونز، جیک هیفورد، فرید سمیت، واسلواد ساندرز...، راځي. که تاسې اوس سلاکار نه لرئ، نو ښه به دا وي چې لاړ شئ او یو درته ومومئ، البته که ژوندی انسان نشئ پیدا کولای، کتابونه ولولئ. ما خپله له کتابه پیل کړی دی، مهمه دا ده چې په دې برخه کې حرکت پیل کړئ.

**پر دې فکر وکړئ**
تاسې ښه اورېدونکي یئ؟ ما چې رهبري پیل کړه ښه اورېدونکی نه وم. زه به یوازې په خپلو کارونو کې ډوب وم او هڅه مې کوله چې د چارو په ترسره کېدو کې مرسته وکړم. خو بیا مې لږه دمه وکړه، څه چې کېدل هغوی ته ځیر شوم او پام مې شو چې پایلې یې ښې دي.
په وروستي ځل مو کله بل کس او د هغه خبرو ته پام کړی دی؟ یوازې حقایقو، شمېرو او ارقامو ته پام مه کوئ. د تورو او کلیمو تر شنګ ماناوو او احساساتو ته هم پام کوئ.

**د رسېدو لار**
**د اورېدو مهارت د ښه کولو لپاره لاندې کارونه وکړئ:**
• مهالویش مو بدل کړئ. آیا د پیروانو، پېرودونکو، سیالانو او سلاکارانو اورېدو ته وخت ورکوئ؟ که له دغو څلورو ډلو سره منظمې ناستې نه لرئ، مانا دا چې پوره پام ورته نه کوئ، هڅه وکړئ چې هره ورځ، په اونۍ یا میاشت کې له خلکو سره ارتباط ونیسئ.
• د هغوی نړۍ ته ننوځئ. د ښه اورېدونکي کېدو لپاره یوه ښه لاره دا ده چې تاسې له مقابل لوري سره ګډې زمینې رامنځته کړئ. دا ځل چې له خپل کارکوونکي یا پېرودونکو سره مخ شوئ، خپله د هغوی په اړه ترې ځینې پوښتنې وکړئ، هڅه وکړئ چې هغوی وپېژنئ او داسې ګډ ټکي او زمینه ورسره پیدا کړئ چې ارتباط مو ورسره پیدا شي.
• د خلکو د زړه غږ واورئ. له نور سره چې خبرې کوئ، اړ یاست چې حقایقو ته پام وکړئ، خو په احساساتو هم سترګې مه پټوئ. ځینې وخت د اصلي خبرو په منځ کې ځینې نورې فرعي خبرې وي، د خبرو تر شا پرتې خبرې واورئ. په راتلونکو اونیو او میاشتو کې هڅه وکړئ چې خبرې د غوږونو پر ځای په زړه واورئ.

**له تجربې زده کړه**
ولسمشر تئودور روزوېلټ د کار او عمل سړی و، خو د دې تر څنګ ښه اورېدونکو و او په نورو خلکو کې به یې هم د اورېدو ښېګڼې ستایلې.
یوه ورځ مېلمستیا وه، روزوېلټ له تکراري خبرو او غبرګونونو تنګ شو، ودرېده او هر څوک چې به سترې مشي ته راتلل، ده به ورته ویل: (ما خپله نیا ووژله.) خلک چې به له ده سره مخ کېدل زیاتره به لږ نارامه او وارخطا وو، په دې خاطر یې د ده خبرو ته هم پام نه کېده، خو د یوه دیپلومات ورپام شو او بېرته یې په غوږ کې ورغبرګه کړه: (زه باوري یم چې هسې به هم مړه کېده.) که په ځان کې پټه نیمګړتیا موندل غواړئ، نو غوږ کېږدئ او واورئ. **دوام لري...**

# د لوګر د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



لوګر د کابل سوېل ته په ٦٥ کیلومترۍ کې پروت ولایت دی چې شمال ته یې کابل، سوېل ته یې پکتیا، ختیځ ته یې ننګرهار او لوېدیځ ته یې د وردګ او غزني ولایت یوه څنډه هم پرته ده. لوګر په پخوا وختونو کې د لوی غر په نامه هم یادېده. لوګر تر ۱۳۴۳ لمریز کال پورې په کابل ولایت پورې اړونده سیمه وه؛ خو په همدې کال یو جلا ولایت شو. د لوګر د لوړو زده کړو موسسې د بنسټ ډېره په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د دلوې په ۱۱مه د وخت د لوړو زده کړو د وزیر پوهاند عبیدالله عبید او ور سره پلاوي له خوا د اشناپور په دښته کې کېښودل شوه. د دې موسسې رییس پوهنمل وحیدالله عبدالرحیمزی وایي، دې موسسې ته د لومړي ځل لپاره په اشناپور دښته کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په امر ۵۰۰ جریبه ځمکه منظوره او ځانګړې شوه. دا چې یاده سیمه له مرکز څخه لرې او د خلکو لاسرسی ورته سخت و، نو وروسته د لوګر د مرکز لوېدیځ ته په درې کیلومترۍ کې دویم ځلي د لوړو زده کړو موسسې لپاره ۵۰۰ جریبه ځمکه د ولسمشر په حکم منظوره او تثبیت شوه چې په ۱۳۹۳ لمریز کال کې یې رسماً د لوګر د لوړو زده کړو موسسې چارې پکې پیل شوې.

د لوګر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال یوازې د ښوونې او روزنې پوهنځی لري. دغه پوهنځی د څلورو ډیپارټمنټونو کیمیا، فزیک، بیولوژي او ریاضي درلودونکی دی. د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس پوهنمل عبدالرحیمزی وایي، اوس اوس ورته د لوړو زده کړو وزارت له خوا د کرنې پوهنځی هم منظور شوی چې ټول رسمي کارونه یې پای ته رسېدلي او په راتلونکي ۱۳۹۸ لمریز کال کې به یې چارې رسماً پیل شي او محصلین به ورته جذب کړي. دی وایي، په دغه نوي پوهنځي کې د اګرانومي او کرنیزې پراختیا څانګې شاملې دي. عبدالرحیمزی وایي، په راتلونکي کې د جیولوجي او معدن او دغه راز د انجینرۍ پوهنځیو لپاره تیاری لري او مخکې له مخکې ورته بلاک او نور اړین وسایل په پام کې نیول شوي او تیار شوي دي. دی وایي، یوازې دېته په تمه دي چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا ورته پوهنځي منظور شي.

د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، دوی د پوهنتون په کچه یو کتابتون لري چې اوسمهال پکې ۳۲۰۰ جلده بېلابېل کتابونه شته چې ډېری یې د افغانستان په رسمي ژبو او ډېر لږ یې بیا په بهرنیو ژبو دي، خو څه ډول چې لازمه ده، هغه ډول کتابتون او ځانګړې ودانۍ نه لري. عبدالرحیمزی وایي، د لیلیې لپاره دوه بلاکونه لري چې ساختماني چارې یې بشپړې شوې دي، خو له لوړو زده کړو وزارت څخه له پرله پسې غوښتنو سره سره بیا هم نه دي توانېدلي چې د لیلیې د بلاکونو لپاره تجهیزات او اړین وسایل برابر کړي. دی وایي، اوسمهال ۱۸۰ تنه د لیلیې پر شرایطو برابر محصلین لري، خو هغوی ته بدل اعاشه ورکول کېږي او د لوګر په بازار کې یې د اوسېدو لپاره کوټې نیولې دي.

د لوګر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال ۱۴ تنه استادان لري چې څلور تنه یې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او څلور تنه نور یې په ایران کې پر ماسترۍ اخیستو بوخت دي. د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، له بده مرغه تر اوسه پورې دوی هېڅ ښځینه استاده نه لري، خو د لوړو زده کړو وزارت د ستراتېژیک پلان له مخې تر ۲۰۲۰ ز کال پورې باید لږ تر لږ ۳۰ سلنه ښځینه استادانې ولري. نوموړی وایي، دېته په تمه دي چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا ورته بستونه ورکړل شي او تر ازموینې وروسته ښځینه استادانې په دنده وګوماري. لوګر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال په خپل یوه پوهنځي کې ۴۴۷ تنه محصلین لري چې له دې ډلې ٦٦ یې نجونې دي. دا چې دغه موسسه نوې تاسیس شوې ده، نو تر اوسه پورې یې یوه دوره محصلین چې شمېر یې ۵۹ تنه و، فارغ کړي دي. د یادولو وړه ده چې د دې موسسې په لومړۍ دوره فارغ شویو کسانو کې ۲۲ تنه یې نجونې وې.

د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، دوی د پکتیا پوهنتون، کابل پوهنتون، د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون، پروان پوهنتون، بغلان پوهنتون او د وردګو د لوړو زده کړو له موسسې سره علمي اړیکې لري. عبدالرحیمزی وایي، دا چې دوی خپله علمي مجله نه لري، نو د استادانو علمي مقالې یې د پکتیا، بغلان او پروان پوهنتونونو په علمي مجلو کې خپرېږي. دی وایي، د کابل پوهنتون او دغه راز د کابل ښوونې او روزنې له پوهنتونونو سره هم پراخې علمي اړیکې لري او دا چې اوس د لوګر د لوړو زده کړو موسسې لپاره نوی د کرنې پوهنځی هم منظور شوی دی، نو د کابل پوهنتون له مشرتابه سره یې خبرې کړې دي، څو د دغه پوهنتون د کرنې پوهنځي کرېکولم د دوی په واک کې ورکړي او راتلونکی کال یې په دغه پوهنځي کې د نویو محصلینو له جذب وروسته عملي کړي.

دا چې د لوګر د لوړو زده کړو موسسه نوې تاسیس شوې، نو له ګڼو ستونزو سره هم لاس او ګرېوان ده. د دې موسسې رییس وایي، لومړنۍ ستونزه یې د احاطې نشتون دی. دی وایي، دغه موسسه ۵۰۰ جریبه ځمکه لري، خو احاطه نه لري. دا چې موسسه د لوګر مرکز ته نږدې او په خورا ښه ځای کې موقعیت لري، نو ځمکه یې د غصب له جدي خطر سره مخ ده.

د عبدالرحیمزي په خبره، د لوګر د لوړو زده کړو موسسې څخه مرکز پل علم ته غځېدلی سړک خامه دی چې ورتلونکي کسان هغه که استادان دي او یا محصلین، د خاورو او دوړو له کبله له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي. دی وایي، هیله من دی چې په اړونده برخه کې مسوولین ورسره مرسته وکړي.

پوهنمل عبدالرحیمزی وایي، دوی د دریو پوهنځیو لپاره ودانۍ او اړونده ټول تجهیزات په واک کې لري، خو یوازینۍ ستونزه یې دا ده چې نوي پوهنځي ورته منظور شي او دغه موسسه هم د هېواد د نورو پوهنتونونو په څېر پرمختګ وکړي.

د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، د پنځه سوه جریبه ځمکې شنه کول هم څه اسانه خبره نه ده. عبدالرحیمزی وایي، موسسه یې تر اوسه پورې دولتي برېښنا نه لري، کله کله له لمریزې برېښنا او کله هم د جنراټور له برېښنا څخه د اوبو را ایستلو او یا هم د محدودې ساحې د شنه کولو لپاره ګټه اخلي، په داسې حال کې چې له دوی سره په څنګ کې لوګر ولایت ته د عمومي دولتي برېښنا پایې او مزي غځېدلي دي. دی وایي، په دې برخه کې یوازینۍ ستونزه د ټرانسپرمر نشتون دی چې له اړوندو چارواکو څخه په دې برخه کې د جدي مرستې غوښتنه کوي، څو دا موسسه په دولتي او دایمي برېښنا سمبال شي.

د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، د موسسې په پیل کې له ګڼو ناخوالو سره مخ و او په ډېرو سختو شرایطو کې یې تر دې ځایه کارونه رارسولي دي. دی وایي، خپلو هڅو ته به همداسې دوام ورکړي، څو په ټولو معیارونو برابر پوهنتون ولري.

د هېواد د نورو پوهنتونونو په پرتله د لوګر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال له ګڼو ستونزو سره مخ ده. د موسسې مشرتابه له افغان حکومت، لوړو زده کړو وزارت او اړوندو چارواکو څخه غواړي چې هر اړخیزه مرسته ور سره وکړي، تر څو د هېواد د نورو پوهنتونونو په څېر یو پرمختللی او پر معیارونو برابر پوهنتون ولري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۲۰ |
| € | ۸۸ |
| Rp. | ۵۸۷ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۷,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:00 |
| کابل - دوبی | 16:15 |
| هرات - کابل | 12:10 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** عبدالرقیب نوري

**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوتوال او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# ویتامین (ب – کمپلکس)؛ فواید و موارد مصرف آن

ترجمه: فایز کریمی

**... اما تأکید می‌کنیم که در مصرف مکمل‌ها خودسرانه عمل نکنید. اگر احساس می‌کنید که کمبود ویتامین دارید، به داکتر مراجعه کنید و فقط درصورت صلاحدید داکتر به مصرف مکمل‌ها اقدام کنید. داکتر برحسب سن و وضعیت سلامتی‌تان مکملی تجویز خواهد کرد که با میزان نیاز بدن‌تان مطابقت داشته باشد.**

ویتامین B به گروهی از مغذی‌هایی گفته می‌شود که نقش‌های مهم در بدن ایفا می‌کنند. بیشتر مردم مقادیر مورد نیاز این مغذی‌ها را از راه تغذیه به دست می‌آورند، زیرا ویتامین‌های گروه B در طیف وسیعی از مواد غذایی یافت می شوند. اما عواملی مانند سن، بارداری، تغذیه، جنیتیک، برخی بیماری ها و داروها و همچنین مصرف الکول نیاز بدن به ویتامین‌های گروه B را افزایش می دهند. در چنین شرایطی، شاید به صلاحدید داکتر، نیاز به مصرف مکمل‌های ویتامین B باشد. در این مقاله به شما اطلاعاتی درباره محتویات ویتامین B کمپلکس، افراد نیازمند به ویتامین B کمپلکس و موارد مصرف، فواید ویتامین B کمپلکس، مقدار مصرف و عوارض احتمالی تابلیت های B کمپلکس خواهیم داد.

**ویتامین B کمپلکس چیست؟**

مکمل‌های B کمپلکس معمولاً تمامی ۸ ویتامین B را در یک تابلیت دارند. ویتامین‌های B محلول در آب هستند؛ به این معنی که در بدن ذخیره نمی شوند و برای همین باید در رژیم غذایی روزمره مان وجود داشته باشند. ویتامین های گروه B وظایف خیلی مهمی در بدن دارند و برای حفظ سلامتی مان حیاتی هستند. ویتامین B کمپلکس معمولاً حاوی ویتامین های زیر است:

**۱- ویتامین B۱تیامین:** ویتامین B۱ به‌دلیل اینکه مغذی‌ها را به انرژی تبدیل می‌کنند، نقشی مهمی در متابولیزم بدن دارد. منابع غذایی حاوی تیامین عبارت اند از تخمه آفتاب گردان و جوانه گندم.

**۲- ویتامین B۲ ریبوفلاوین:** ویتامین B۲ در تبدیل غذا به انرژی مؤثر است و خواص انتی اکسیدانی هم دارد. منابع غذایی حاوی ریبوفلاوین عبارت اند از گوشت های ارگانیک، گوشت گاو و قارچ.

**۳- ویتامین B۳ نیاسین:** ویتامین B۳ در سیگنال دهی سلولی، متابولیزم و ساخت و بازسازی DNA نقش دارد. منابع غذایی حاوی نیاسین عبارت اند از گوشت مرغ، ماهی و عدس.

**۴- ویتامین B۵ پنتاتنیک اسید:** ویتامین B۵ مانند سایر ویتامین‌های گروه B به تأمین انرژی بدن از غذاها کمک می‌کند و نیز در تولید هورمون و کلسترول نقش دارد. منابع غذایی حاوی پنتاتنیک اسید عبارت اند از جگر، ماهی و ماست.

**۵-ویتامین B٦ پیریدوکسین:** ویتامین B٦ در متابولیزم اسیدهای امینه، تولید کرویات سرخ خون و ایجاد انتقال دهنده های عصبی نقش دارد. منابع غذایی حاوی پیریدوکسین عبارت‌اند از نخود، ماهی و کچالو.




**٦- ویتامین B۷ بیوتین:** ویتامین B۷ برای متابولیزم کاربوهایدریت و چربی ضروری است. منابع غذایی حاوی بیوتین عبارت‌اند از تخم مرغ، پنیر و جگر .

**۷- ویتامین B۹ فولات:** ویتامین B۹ برای رشد سلول‌ها، متابولیزم اسید های امینه، تشکیل کرویات سرخ و سفید خون و تقسیم سلولی سالم احتیاج است. منابع غذایی حاوی فولات عبارت اند از سبزیجات دارای برگ سبز، جگر و لوبیا.

**۸- ویتامین B۱۲ کوبالامین:** ویتامین B۱۲ تقریباً یکی از شناخته‌شده ترین ویتامین‌های گروه B است که در عملکردهای عصبی، ساخت DNA و رشد کرویات سرخ خون نقش دارد. کوبالامین به طور طبیعی در منابع حیوانی مانند گوشت، تخم مرغ، غذاهای دریایی و لبنیات یافت می‌شود. ویتامین هایی که نام بردیم از برخی جهات اشتراکاتی دارند، اما هر کدام شان دارای خصوصیات منحصر به فردی هم هستند و باید تک تک‌شان به مقادیر کافی به بدن مان برسند.

**چه کسانی به تابلیت های B کمپلکس نیاز دارند و موارد مصرف آن چیست؟**

از آنجاکه ویتامین های گروه B در طیف وسیعی از مواد غذایی وجود دارند، معمولاً درصورت رعایت رژیم غذایی مناسب از ابتلا به کمبود شان در امان خواهیم بود. اما برخی شرایط خاص می توانند نیاز بدن به این مغذی ها را افزایش دهند و برای همین عده‌ای از افراد در بازه هایی از زندگی به مصرف تابلیت های مکمل نیاز پیدا می کنند.

**۱- زنان باردار و شیرده**

در دوران بارداری نیاز بدن به ویتامین های گروهB، به‌ویژه B۱۲ و فولات، به دلیل تأمین رشد جنین افزایش پیدا می کند. در زنان باردار یا شیرده، خصوصاً آنهایی که رژیم گیاه خواری را دنبال می کنند، مصرف ویتامین B کمپلکس حیاتی است. کمبود ویتامین B۱۲ و فولات در زنان باردار و شیرده می تواند به آسیب شدید عصبی یا نقایص بد و تولد در جنین یا نوزاد منجر شود.

**۲- سالخوردگان**

توانایی بدن برای جذب ویتامین B۱۲ با افزایش سن کاهش می یابد و اشتها هم کم می شود. به همین دلیل برخی افراد نمی توانند تمام ویتامین B۱۲ مورد نیاز بدن شان را فقط از راه تغذیه تأمین کنند. توانایی بدن برای آزاد سازی ویتامین B۱۲ از غذاهایی که می‌خوریم و تبدیل آن به شکلی قابل جذب برای بدن به وجود مقادیر کافی اسید معده بستگی دارد. اما تخمین زده شده است که ۱۰ الی ۳۰ درصد افراد بالای ۵۰ سال نمی توانند به قدری که برای جذب ویتامین ب۱۲ نیاز است، اسید معده تولید کنند. کمبود ویتامین ب۱۲ با افزایش احتمال بروز افسردگی و اختلالات خلقی نیز در ارتباط است. کمبود ویتامین B٦ و فولات هم در سالخوردگان شیوع دارد.

**۳-مبتلایان به برخی بیماری‌های خاص**

مبتلایان به برخی بیماری های خاص مانند بیماری سیلیاک، سرطان، بیماری کرون، اعتیاد به الکول، کم کاری تایرائید و بی‌اشتهایی در ابتلا به کمبود مغذی هایی همچون ویتامین های گروه B مستعدترند. جهش جنیتیکی MTHFR نیز روی نحوی متابولیزم فولات تأثیر دارد و می تواند به کمبود فولات یا سایر مشکلات سلامتی منجر شود. به‌علاوه کسانی که جراحی های کاهش وزن انجام داده اند هم بیشتر در معرض ابتلا به کمبود ویتامین های گروه B هستند. در چنین شرایطی معمولاً داکتر معالج ویتامین B کمپلکس تجویز می‌کند.

**۴- مصرف‌کنندگان برخی داروهای خاص**

برخی داروهای تجویزی شایع می توانند با ایجاد کمبود ویتامین های گروه B همراه باشند. مثلاً مهارکننده های پمپ پروتون که برای کاهش اسید معده تجویز می‌شوند، می توانند از میزان جذب ویتامین B۱۲ بکاهند. میتفورمین هم که از داروهای معروف دیابت است، سطح ویتامین B۱۲ و فولات را در بدن کاهش می‌دهد. تابلیت های ضد بارداری نیز بدن را با کمبود برخی ویتامین های گروه B از جمله B٦، B۱۲، فولات و ریبوفلاوین مواجه می کنند.

**فواید ویتامین B کمپلکس**

گفتیم که برخی افراد به دلیل شرایط شان نیاز به مصرف ویتامین B کمپلکس دارند. اما تحقیقات نشان داده است که مصرف مکمل B کمپلکس حتی در کسانی که نیاز بدن شان به ویتامین های گروه B با افزایش روبه رو نیست، می تواند مفید باشد. فواید احتمالی ویتامین B کمپلکس عبارت‌اند از:

**احتمال کاهش استرس و بهبود خُلق و خو**

ویتامین B کمپلکس معمولاً برای کاهش خستگی و بهبود خُلق و خو مصرف می‌شود. برخی مطالعات نشان داده اند که ویتامین B کمپلکس می‌تواند موجب افزایش احساس خوشی و بهبود عملکرد شناختی شود. براساس نتایج تحقیقات ۳۳ روزه که روی ۲۱۵ مرد سالم انجام شد، در کسانی که مکمل B کمپلکس و مواد معدنی با دُز بالا مصرف کرده بودند، سلامت عمومی ذهن و شدت استرس‌شان بهبود یافت و در تست‌های شناختی نیز عملکرد مطلوبی داشتند. تحقیقی دیگری نیز در بزرگسالان جوان نشان داده اند که مصرف ۹۰ روزه‌ی مولتی ویتامین حاوی دُز بالای B کمپلکس موجب کاهش استرس و خستگی ذهنی شد.

**احتمال کاهش علائم افسردگی و اضطراب**

ویتامین B کمپلکس برای درمان مشکلات ذهنی نیست، اما می تواند به بهبود علائم افسردگی و اضطراب کمک کند. براساس تحقیقی که روی ٦۰ بزرگسال انجام شد، کسانی که تحت درمان ٦۰ روزه با ویتامین B کمپلکس قرار گرفته بودند، در مقایسه با کسانی که دارونما مصرف کرده بودند، بهبود قابل توجهی در علائم افسردگی و اضطراب‌شان مشاهده شد. همچنین احتمال می‌رود که مصرف ویتامین های گروه B در کنار داروهای ضد افسردگی موجب تقویت پاسخگویی به درمان می‌شود. در تحقیقی دیگر مشاهده شد کسانی که مکمل‌های حاوی ویتامین B۱۲، ویتامین B٦ و فولیک اسید مصرف کرده بودند، در مقایسه با گروه دارونما، بدن‌شان به داروهای ضد افسردگی پاسخ بهتر و پایدارتری نشان داد. ضمناً سطوح پایین برخی ویتامین های گروه B شامل B۱۲، B٦ و فولات با افزایش احتمال بروز افسردگی در ارتباط شناخته شده است. به همین دلیل اگر دچار علائم افسردگی هستید، خیلی مهم است که کمبودهای تغذیه‌ای بدن تان را جبران کنید.

دُز توصیه‌شده‌ی ویتامین های گروه B

دُز توصیه شده‌ی هر یک از ویتامین های گروه B بسته به جنسیت، سن و عوامل دیگری مانند بارداری می تواند برای هر فردی متفاوت باشد. اما به‌طور کلی شاخص میزان مصرف توصیه‌شده‌ی روزانه برای ویتامین‌های گروه B در مردان و زنان به‌قرار زیر است:

**ویتامین B۱ تیامین:** در مردان ۱.۲ میلی‌گرام و در زنان ۱.۱ میلی‌گرام.

**ویتامین B۲ ریبوفلاوین:** در مردان ۱.۳ میلی‌گرام و در زنان ۱.۱ میلی گرام.

**ویتامین B۳ نیاسین:** در مردان ۱٦ میلی‌گرام و در زنان ۱۴ میلی‌گرام.

**ویتامین B۵ پنتاتنیک اسید:** در مردان و زنان ۵ میلی‌گرام.

**ویتامین B٦ پیریدوکسین:** در مردان و زنان ۱.۳ میلی‌گرام.

**ویتامین B٦ بیوتین:** در مردان و زنان ۳۰ مایکروگرام.

**ویتامین B۹ فولات:** در مردان و زنان ۴۰۰ مایکروگرام.

**ویتامین B۱۲ کوبالامین:** در مردان و زنان ۲.۴ مایکروگرام.

زنان باردار و شیرده به مقادیر بالاتری از ویتامین‌های گروه B نیاز دارند؛ این درحالی است که نوزادان و کودکان به مقادیر کمتری نیاز دارند. مبتلایان به کمبود این گروه از مغذی‌ها شاید لازم باشد که از مکمل‌های با دُز بالاتر برای جبران کمبود شان مصرف کنند. اما تأکید می‌کنیم که در مصرف مکمل‌ها خودسرانه عمل نکنید. اگر احساس می کنید که کمبود ویتامین دارید، به داکتر مراجعه کنید و فقط درصورت صلاحدید داکتر به مصرف مکمل‌ها اقدام کنید. داکتر برحسب سن و وضعیت سلامتی‌تان مکملی تجویز خواهد کرد که با میزان نیاز بدن‌تان مطابقت داشته باشد.

**کلام آخر**

زنان باردار، سالخوردگان، و مبتلایان به برخی بیماری‌های خاص شاید به مصرف مکمل B کمپلکس نیاز داشته باشند. مصرف مکمل ویتامین‌های گروه B می‌تواند به بهبود خُلق و خو و بهبود علائم افسردگی و عملکردهای شناختی کمک کند. اگر در مصرف مکمل‌ها خودسرانه عمل نکنید و تشخیص دُز مناسب را به داکتر بسپارید، بعید است دچار عوارض جانبی شوید. دُز مصرف هم همان‌طور که گفتیم به سن، میزان نیاز بدن هر فرد به مغذی‌ها، جنسیت و وضعیت سلامتی افراد بستگی دارد.




# المبارک
توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی

کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

flydubai | ARIANA | TURKISH AIRLINES | Emirates



Maseer Daily
New Vision, New Journey

یکشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۱۳مه | د ۲۰۱۸ د نومبر خلورمه | دویم کال | ۲۷۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱۵ | ۱۸ | ۱۰ | ۲۱ | ۱۹ |
| ۲- | ۲- | ۳ | ۱ | ۷ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۲ | لمر ختل ۰۶:۱۵ | ماسپښین ۱۱:۳۷ | مازیگر ۰۳:۱۹ | ماښام ۰۴:۵۸ | ماخوستن ۰۶:۲۳

## نړۍ



## ټرمپ: ایراني چارواکي به اخر هم هوښیار شي او د نویو شرطونو منلو ته به غاړه کېږدي

۳

## اسیه بي بي له پاکستانه ممنوع الخروج اعلان شوه

هغه عیسوی مېرمن چې په پاکستان کې اسلامي مقدساتو ته په سپکاوي تورنه ده، ممنوع الخروج اعلان شوه.

له پاکستانه د اسیه بي بي د وتلو د بندیز هوکړه د حکومت او یوې اسلامپالې ډلې «تحریک لبیک» تر منځ شوې ده.

په پاکستاني رسنیو کې د لاسلیک شوې هوکړې انځورونه خپاره شوي چې له مخې یې اسیه بي بي په ممنوع الخروج لېست کې شاملېږي او له پاکستانه د وتلو اجازه به نه لري. تحریک لبیک د اسیه بي بي د اعدام د حکم تر لغوه کېدو وروسته په پاکستان کې پراخ احتجاجونه او لاریونونه وکړل چې له کبله یې درانه اقتصادي زیانونه هم واوښتل.

د تحریک لبیک پاکستان وياند پیر اعجاز قادري ویلي چې گوند یې خپلو هغو زرگونو پلویانو ته چې د پاکستان په لویو ښارونو کې یې اعتراضونه پیل کړي وو، وویل چې لاریونونه ختم کړي.

اسیه بي بي پاکستانۍ عیسوۍ او د څلورو ماشومانو مور ده چې اسلامي مقدساتو ته د سپکاوي په تور له تېرو اتو کلونو راهیسې په زندان کې ده.



د پاکستان سترې محکمې د اکتوبر په ۳۱ مه د اسیه د خوشې کېدو حکم وکړ.

د پاکستان د مذهبي چارو وزیر نور الحق قادري پرون ویلي چې اسیه بي بي به تر هغو له هېواده له وتلو منعه وي چې ستره محکمه پر خپل حکم وروستۍ غور کوي.

محکمې ویلي، داسې کافي شواهد نشته چې وښیي، اسیه بي بي دې مقدساتو ته سپکاوی کړی وي.

## اولین محموله تجارتی با استفاده از سیستم تیر از افغانستان به پاکستان صادر شد




اتاق تجارت و صنایع افغانستان از ارسال اولین محموله‌ی تجارتی با استفاده از سیستم حمل و نقل بین‌المللی جاده‌یی یا «تیر» از افغانستان به پاکستان خبر داده است.

در اعلامیه‌ی اتاق تجارت و صنایع کشور که دیروز منتشر شده، آمده است که این محموله‌ی تجاری شامل ۲۵ تُن سیب است و از کابل بارگیری شده و به مقصد کراچی پاکستان حرکت کرده است.

در اعلامیه همچنان گفته شده که دو محموله‌ی ترانزیتی پنبه نیز از شهر مشهد ایران بارگیری و به مقصد شهر پشاور حرکت کرده است.

اتاق تجارت و صنایع افغانستان همچنان افزوده است که سیستم حمل و نقل بین‌المللی جاده‌یی یا تیر حقوق گمرکی اموال صادراتی، وارداتی و ترانزیتی را نزد گمرک ضمانت می‌کند. این اتاق همچنان گفته است که با تطبیق سیستم تیر گمرکات افغانستان می‌تواند حقوق گمرکی را به صورت دقیق از اموال وارداتی به‌دست بیاورند.

این در حالی است که افغانستان برای اولین بار در سال ۱۹۷٦ میلادی عضویت کنوانسیون (TIR) را به‌دست آورد، اما به دلیل جنگ‌های داخلی عضویت افغانستان در این کنوانسیون به حالت تعلیق درآمد تا این که این کشور در سال ۲۰۱۳ میلادی دوباره عضویت کنوانسیون (TIR) را حاصل کرد.

از زمان فعال‌سازی دوباره‌ی این سیستم در کشور الی ماه جون سال جاری میلادی، سه هزار ۳٦۸ محموله‌ی تجارتی با استفاده از این سیستم از کشورهای ایران، ترکیه، روسیه، ایتالیا، قزاقستان، ترکمنستان، تاجکستان، قیرغزستان، لیتوانیا و اوکراین وارد افغانستان شده است.

در مقابل اتاق تجارت و صنایع افغانستان تاکنون ۴۰ کانتینر تیر را به مقصد تاجکستان، ایران و قزاقستان صادر کرده است.

## ژوند


## ژوند لکه سیند داسې روان دی

ژوند سیند ته ورته دی چې تل روان وي او شا ته نه راگوري. دغه راز څومره چې زموږ عمر پخېږي، په هماغه کچه مو د ژوند شپې او ورځې کمېږي. نو راځئ چې په خپل ژوند کې گلونه وکرو، څو یې له ښکلي بوی څخه نور گټه واخلي او راتلونکي نسل ته مو د یادگار په توگه یو څه پرېښې وي.

ژوند څه دی؟

ژوند، معنا له هېڅ څخه پیل کول او ډېر څه ته ځان رسول دي.

د دې لپاره چې د ژوند اخر ته ځان ورسوو، ښه ده چې په ډېر دقت د حرکت لاسونه په خپلو لاسونو کې ونیسو او په ستونزو کې له ښویېدو څخه مخنیوی وکړو. ژوند د خوښیو او خپگانونو یوه ټولگه ده چې یوه لحظه یې غم او بله یې خوښي ده او د دوی دواړو ترمنځ فاصله ډېره کمه ده، نو ښه خبره دا ده چې د خوښۍ له دې وړې او کمې فاصلې څخه په اعظمي ډول گټه پورته کړو. ژوند د خدای پاک له لوري یوه ډالۍ ده، ژوند زموږ لپاره د یوه امانت په څېر دی چې په ساتلو او پېژندلو کې یې باید پوره دقت وکړو.




هماهنگی کمک ها برای افغانها | CoAR 1989 | Coordination of Afghani Relief

### اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی Save the children تصمیم دارد که به شاگردان مکاتب ولایت کندز، کیت ها و البسه خریداری نماید. انعده شرکت های لوجستیکی که دارای تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نمایند، شرطنامه را الی تاریخ (7-11-2018) از سایت www.acbar.org.af به دست آورده و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (7-11-2018) به آدرس زیل بسپارند:

خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af

هماهنگی کمک ها برای افغانها | CoAR 1989 | Coordination of Afghani Relief

### اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی UNHCR تصمیم دارد در ولایت کندز به تعداد 499 تشناب که برای مهاجرین اعمار نموده بود پلستر نماید. انعده شرکت های ساختمانی که دارای تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نمایند شرطنامه را الی تاریخ (11-06-2018) از سایت www.acbar.org.af به دست آورده و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (11-06-2018) به آدرس زیل بسپارد:

خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af